# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| د پرېکړې شمېره | ۱۳۹۲-۳۷ |
| موضوع: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشا او ولایتي دفترونو د اجراتو د څارنې په موخه د څارونکو ګروپونو تشکیل. |
| مرجع | د ټاکنو خپلواکمیسیون دارالانشا |
| د جلسې نېټه او ځای | ۱۳۹۲ کال د دلوې ۱(۲۰۱۴ کال د جنوري ۲۱) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، اغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمدحسین ګرزیواني، ښاغلی محمدعزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلېمان حامد، اغلې لیلا احراري او اغلې شریفه زرمتي وردک . |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون ۱۴ مادې ته په پام پرېکړه کړې چې:

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۴ مادې د ۴ فقرې او د ټاکنو خپلواک کمیسیون د داخلي دندو لایحې د ۷ مادې د ۴ او ۵ فقرې د حکمونو د ښه تطبیق د ډاډ په موخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشا او د ولایتي دفترونو د اجراتو د څارنې په موخه دوه څارونکي، عملیاتي او اداري ټیمونه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون له غړو څخه په ولایت وار ډول ایجاد شي. د څارونکي ټیم غړي په هرو دو میاشتو کې بدلېږي.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر محمدیوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریراحمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلېمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتي وردک | |